# شريعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤۳۰ گڼه / پنجشنبه ۰۹ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۳۰ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۱۸ اپريل ۲۰۲٤ ميلادي


## د امنيت په راتلو سره د بهرنيو سيلانيانو راتګ ورځ تر بلې زياتېږي

د بلخ ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست چارواکي وايي، چې ۱۹ تنه بهرني سيلانيان دغه ولايت ته د تاريخي او طبيعي ځايونو د ليدو په موخه تللي دي. د بلخ ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست د ګرځندوی



مشر عبدالواحد احدي وايي، چې دغه سيلانيان له جرمني، ايټاليا او رومانيا څخه راغلي دي. دغو سيلانيانو له تاريخي ابداتو او طبيعي ځايونو څخه ليدنه کړې ده. د ورکړل شويو شمېرو له مخې، په تېره يوه مياشت کې... ۷مخ

## مولوي عبدالسلام حنفي: بهر مېشتي افغانان دي د هېواد په آبادۍ او پرمختګ کې ونډه واخلي



د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي پرون له غرمې وروسته د بهر مېشتو افغانانو له يو شمېر استازو او علمي او فرهنګي شخصيتونو سره وکتل. هغوئ په هېواد کې د امنيت پر تامين، د اداري فساد په ختمولو، د نشه يي توکو په منع کولو، د سترو پراختيايي پروژو پر عملي کولو او بېلابېلو برخو کې د اسلامي امارت په لاسته راوړنو خوښي څرګنده کړه دوی زياته کړه، په هيواد کې د اسلامي امارت په ... ۷مخ

## شورای امنيت سازمان ملل؛ عضويت کامل فلسطين را به رأی می گذارد

قراراست شورای امنيت سازمان ملل متحد، عضويت کامل فلسطين در اين سازمان را به رأی بگذارد.

براساس گزارش رسانه‌های بين المللی؛ شورای امنيت سازمان ملل متحد قراراست، امروز پيش‌نويس قطعنامه پيشنهادی الجزاير در رابطه به عضويت کامل فلسطين در سازمان ملل را به رأی بگذارد.

گزارش‌ها می‌رساند... ص۷



## د اوبو او انرژۍ سرپرست وزير؛ د يو شمېر پروژو د چارو پر چټکوالي ټينګار وکړ



د انرژۍ او اوبو وزارت سرپرست ملا عبدالطيف منصور د ملي پراختيايي شرکت له رييس سره په يوه کاري غونډه کې د دغه وزارت تر لاس لاندې پروژو د چارو پر چټکتيا ټينګار وکړ. دانرژۍ او اوبو وزارت مطبوعاتي دفتر پرون دباختراژانس دخبريال دخبر له مخې: ددغه وزارت دپروژو دتطبيق په خاطر ددغه... ۷مخ

## تأکيد شهاب الدين دلاور بر ايجاد فرصت های کاری برای جوانان



سرپرست وزارت معادن و پتروليم در نشستی با مسوولان شرکت آفچين بر شفافيت امور، تطبيق برنامه های اجتماعی و ايجاد فرصت‌های کاری برای جوانان تأکيد کرد.

دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پتروليم ديروز با نشر اين خبر گفته است: شيخ‌الحديث شهاب‌الدين دلاور سرپرست وزارت معادن و پتروليم در نشست که با مسئوولان شرکت آفچين روی پيشرف‌ها و فعاليت های آخير آن شرکت بحث و تبادل نظر کرده، ص۷

## بغلان کې ۲۰ پروژې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې

د پلخمري ښاروالۍ مسوولينو ويلي چې په دغه ولايت کې يې ۲۰ تولګټې پروژې پلې کړې دي. د پلخمري ښاروال عبداللطيف مظلوم د باختر آژانس خبريال ته ويلي چې په دغو پروژو کې د ياد ښار په لومړۍ، دويمه او درېمه ناحيه کې د مارکېټ جوړول، د فرعي سړکونو کانکرېټ، د فرهنګي کلوپ جوړول، د تفريحي پارک او د قهوه خانې بڼ روښانول او نورې کوچنۍ پروژې شاملې دي، چې په ګټې اخيستنې سره يې سلګونو کورنيو ته اسانتياوې... ۷مخ



## د وروږګلوی مېله؛ د ګل غونډۍ غېږ کې د ارغوان ګل دوديزه مشاعره وشوه

**شريعت:** د پروان ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د ګڼو شاعرانو، ليکوالانو، دولتي مسوولينو، نظامي منسوبينو، د رسنيو مسوولينو، ملکي وګړو، د شعر او ادب مينه والو په شتون کې د ارغوان ګل دوولسمه دوديزه ملي مشاعره ونمانځله. دغه مشاعره د پروان ولايت د ګل غونډۍ په نامتو او زړه راښکونکې برخه کې جوړه شوې وه چې د پروان ترځنګ، د پلازمېنې کابل او څنګزنو ولايتونو ګڼ... ۷مخ



## سرمقاله

## د اسلامي امارت پرانيستې غېږه

له فتحې سره سم د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله په حکم عمومي بښنه اعلان شوه. اسلامي امارت په خپل عهد کلک ودرېد او پرېکنده ټکو يې وويل چې هېڅوک حق نه لري په خپلسري ډول کوم څوک وځوروي او يا يې هم مجازات کړي. باوجود د دې هم ځينو سياسيونو او نورو هېواد پرېښود او د کډوالۍ ناوړه ژوند يې قبول کړ. بل پلو، د اسلامي امارت مشرانو له لومړۍ ورځې ويلي وو، چې هېواد د ټولو ګډ کور دی او هېڅوک حق نه لري چې کوم څوک جلاوطنۍ ته اړ کړي، هر افغان کولی شي، خپل هېواد کې واوسي او د پرديو ملکونو له ذليله ژوند ځان وژغوري. اسلامي امارت په همدې تکل (افغان شخصيتونو سره د تماس کميسيون) رامنځته کړ، د دې کميسيون يوازينۍ دنده له بهرمېشتو افغان شخصيتونو سره اړيکه نيول او خپل هېواد ته رابلل وو. د دغه کميسيون له جوړېدو سره سم، سلګونو افغان سياسيونو هېواد ته مخه کړه او د نورو افغانانو ترمنځ يې استوګنه غوره کړه. دغه کميسيون يادو سياسيونو ته د تشويش د رفع په خاطر د خونديتوب کارتونه ووېشل او همداشان يې د باعزته ژوند کولو زمنه ورکړه. ورمه ورځ يو شمېر اروپايي مېشتو افغان شخصيتونو چې اوس هېواد ته راکډن شوي، د رياست الوزرا له سياسي مرستيال مولوي عبدالکبير او د بهرنيو چارو له وزير مولوي اميرخان متقي سره په ناستو کې منلې چې د اسلامي امارت بديل نظام نشته او له ملاتړ پرته يې هم بله چاره نه لري. دغه خبرې په هېواد کې سياسي، اقتصادي، ټولنيز او په ټوليز ډول امنيتي پرمختګونه د ستاينې وړ بولي. د بهرنيو چارو وزارت سرپرست افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور وباله او زياته يې کړه، چې هر څوک کولای شي د هېواد په بيارغونه، پرمختګ او د اسلامي نظام د بنسټونو په ټينګښت کې ونډه واخلي. هېواد ته راستانه شوي افغانان مني چې په هېواد کې ګڼ مثبت بدلونونه راغلي. هېواد امن دی، سياسي او اقتصادي ټيکاو يې خپل کړی، د قدرت جزېرې محوه شوي، فساد او د نشه يي توکو جرړې له منځه تللي دي. د افغان حکومت لويه هيله هېواد ته د وتو افغانانو بيا راستنېدنه او د هېواد په ابادۍ کې د دوی ونډه ده.


د لاجوردو لاره د بين المللي جيوپولټيک په رڼا کې ۲
د سپټمبر ۱۱مه پر افغانستان د نظامي يرغل لپاره دسيسه وه ۳
اوسنۍ اسلامي نړۍ ته د ابو ريحان البيروني پيغامونه ۳
د سترګو د نظر حفاظت کول ۴
افغان اعلانات ۶


## حمايت اتحاديه اروپا و سازمان صحی جهان از بيماران سرطانی در افغانستان

اتحاديه اروپا و سازمان صحی جهان متعهد شده اند که از بيماران سرطانی در افغانستان حمايت کنند. رافايلا آيوديس کاردار اتحاديه اروپا برای افغانستان می‌گويد که اين اتحاديه و سازمانی صحی جهان به گونه مشترک از بيماران سرطانی در افغانستان... ص۷

## صادرات چشم گير افغانستان در ماه حوت سال گذشته



**شريعت:** افغانستان در ماه حوت سال گذشته بيش از صد وچهل ميليون دالر صادرات داشت.

اداره ملی احصائيه و معلومات ارقام مربوط به صادرات و واردات افغانستان را در ماه حوت سال ۱۴۰۲ جمع‌آوری و تحليل نموده است که مجموع ارزش صادارت کشور در اين ماه به ۱۴۱٫۱ ميليون دالر و مجموع ارزش واردات به ۷۸۹٫۶ ميليون دالر می‌رسد. اين در حالی‌ست که... ص۷

## غزني کې يوه مېرمن تر ۱۲ کاله بنده وروسته خوشې شوه



د غزني د امنيې قوماندانۍ چارواکي د دغه ولايت له «کورني زندان» څخه د يوې ښځې د خلاصون خبر ورکوي، چې د غزني د امنيه قوماندانۍ وياند خالد سرحدي رسنيو ته ويلي، چې دغه ښځه د «نذروال» په کلي کې وه. ۷مخ

# د لاجوردو لاره د بین المللي جیوپولټیک په رڼا کې

**دربیمه او وروستۍ برخه / ثناءالله عمران**

د سیمې او له سیمې هاخوا لپاره د لاجوردو لارې ارزښت: دا چې اوس په سیمه او په ځانګړي ډول افغانستان کې د امریکایي اشغال د خاتمې له امله ثبات او امنیت تر ډېر ځند وروسته ټینګ شوی، د دې لارې د طرحې د عملي چارو پراختیا ته ښه زمینه برابره شوې ده. پر روسیې د ډله ییز غرب د بندیزونو او افغانستان کې یې د ماتې له امله روسیه هم په دې برخه کې د خنډ جوړلو لېوالتیا نه‌لري او ځینې نور هېوادونه چې غواړي له دې لارې څخه استفاده وکړي د هغو د اموالو لېږد ته هم د تېر په پرتله زمینه مساعده ده. په دې برخه کې د چین د میلیارډو ډالرو پانګونه د دې لارې د طرحې د عملي کولو لپاره ښه فرصت دی.
د لاجوردو لاره د ترکمنستان ،آذربایجان او ګرجستان تکیه پر روسیې باندې کموي او د یادو هېوادونو هغه هڅې چې غواړي له غرب سره نېږدې اړیکې ولري دې هدف ته د رسېدو لپاره یادو هېوادونو ته د لاجوردو لاره یو ښه فرصت دی.
له افغانستان وروسته د لاجوردو د لارې بل منزل ترکمنستان دی.
ترکمنستان: د لارجوردو لارې د مسیر یو د خیلو هېوادونو له جملې څخه دی، په نړۍ کې د ګازو د تولید په برخه کې څلورم د ګازو تولیدونکی هېواد دی، نو له همدې امله اړتیا لري چې د خپلې اقتصادي ودې لپاره د نړۍ بېلابېلو مارکېټونو ته لاره پیدا کړي.
اوس‌مهال د ترکمنستان د ګازو ستر پلورونکی چین دی.ازبیکستان، قزاقستان او تاجیکستان ته هم د ګازو صادرات لري. د ترکمنستان ګاز چین ته د درېیو لینونو C,B,A په ذریعه د ازبیکستان او قزاقستان څخه تیرېږي بیا لوېدیځ چین ته رسېږي. ټاکل شوې وه چې چین ته د ګازو د لېږد په برخه کې څلورم D لین رامنځته شي چې دا لین د ازبیکستان، تاجیکستان او ترکمنستان څخه تېربده، خو د یادو درېیو ټرانزیټي هېوادونو تر منځ د لین د لارې پر سر اختلاف او نورو تخنیکي موضوعاتو له امله تر دا مهال ځنډېدلی.
بل‌خوا اوس د ټاپي ګازو نللیکې د پروژې د تطبیق لپاره ښه زمینه برابره ده او په دې تړاو د افغان او ترکمن حکومتونو لوړپوړو چارواکو تر منځ رغنده بحثونه تر سره شوي دي.
ترکمنستان د هایدرو کاربن پر صنعت باندې د پراخې اتکا سره تړلو خطرونو څخه خبر دی او له همدې امله د اقتصادي تنوع په تکل کې شوی. د ترکمنستان د اقتصادي تنوع د اجنډاء د یوې برخې په توګه چې د ستراتیژیکو ملي لومړیتوبونو تر عنوان لاندې د ۲۰۱۱-۲۰۳۰ ز کال پورې د ټولنیز اقتصادي پراختیا ملي پروګرام کې تشریح شوی غواړي چې د کسپین سمندرګي او تور سمندرګي له لارو څخه په ګټې خپل موقعیت په یوه بین المللي تجارتي ټرانزیټي مسیر بدل کړي او د ډېرو کلونو را پدې خوا د نښلوونکو لارو د رغونې په پرخه کې پانګونه کوي،نو په دې برخه کې د لاجوردو د لارې ټرون د ترکمنستان له ستراتیژیکو لومړیتوبونو سره سم دی. د دې لارې د مسیر څخه د اموالو لېږد اروپا ته یاد هېواد ته ډېرې ګټې لري. دا به یاد هېواد له سویلي قفقاز سره ښه نږدې کړي او ښو اقتصادي فرصتونو ته به لاس رسی پیدا کړي.
آذربایجان: د لاجوردو لارې په مسیر کې آدربایجان پروت دی، دا هېواد یو مهال د پخواني شوروي اتحاد مستعمره و. اوس مهال اذربایجان په سویلي قفقاز کې د ستراتیژیکو لوبغاړو له جملې دی. یاد هېواد چې اکثریت وګړي یې شیعه دي له ایران سره قومي او فرهنګي اړیکې لري،خو له دې سره سره اذربایجان د سیاسي او اقتصادي اړیکو له لحاظه له ایران سره د واټن په ساتلو سره خپل د پخواني شوروي اتحاد د دورې سیکولر حالت ساتلی دی. د اسرائیلو او اذربایجان ترمنځ نږدې پوځي، اقتصادي او سیاسي اړیکې د تهران له لوري ایران ضد سیاست ګڼل کېږي. د ۲۰۱۶ ز کال په اګست میاشت کې اذربایجان د ایران او روسیې سره د شمال – سویل ټرانسپورټي کوریډور په ګډون د سیمه ییزو موضوعاتو په اړه د بحث په موخه په درې اړخیزه غونډه کې ګډون کړی و. دغه لاره چې وچه او سمندر په بر کې نیسي ور څخه موخه دا ده چې هند د ایران له لارې د اروپا، سویلي ققفاز او روسیې سره ونښلوي.
بل‌خوا دا چې په نړیوالو اړیکو نه دایمي دوست شته او نه هم دایمي دښمن او هغه څه چې دایمي دي هغه ملي ګټې دي نو اذربایجان هم خپلو ملي ګټو ته په کتو سره د روسیې په پرتله له غرب سره نېږدې اړیکې پالي.
دا چې د کسپین سمندر د نړۍ په کچه د زیاتې انرژۍ او د طبیعي زېرمو درلودونکی دی شاوخوا پنځه مهمې د انرژۍ د لېږد نللیکې د اذربایجان، ګرجستان څخه ترکیې ته او د هغه ځای څخه اروپا ته رسېږي، چې په دې سره د ترکیې او اروپا د پام وړ انرژي برابروي.
د کب په ۲۹مه د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر په کابل کې د اذربایجان له سفیر الهام محمدوف سره لیده کاته درلودل. د همدغه لیدلنې پر مهال سفیر څرګنده کړې چې هېواد یې غواړي د اقتصاد، کرنې، تېلو او ګازو تر څنګ د ټرانس کسپین کوریدور په برخو کې له افغانستان سره خپلې همکارۍ زیاتې کړي، خو په‌دې برخه کې یې هېواد د ا.ا.ا.ا. هراړخیز ملاتړ ته اړتیا لري.
د لاجورد لارې په فعالېدو سره د ټرانس کسپین کورېدور اهمیت نور هم لوړېږي.په هرصورت، اذربایجان له لوري د لاجورد لارې د ټرون لاسلیک د هغه د ځانګړي جیوپولیتیک دریځ سره سمون لري.
ګرجستان: په‌دې مسیر کې واقع بل هېواد ګرجستان دی چې د روسیې، اذربایجان، ترکیې او د توري بحیرې سره د یاد هېواد په غرب کې ګډه پوله لري.
یاد هېواد مخکې تر دې چې د بالشویکیانو تر ولکې لاندې راشي تر لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د لنډ مهال لپاره خپلواکي ترلاسه کړه.د پخواني شوروي اتحاد له ړنګېدو سره په ۱۹۹۱ ز کال کې دغه هېواد ته خپلواکي ورکړل شوه، خو روسیه په سیمه کې د خپلو یو شمېر نورو ګاونډیانو په څېر ګرجستان ته هم د خپل انګړ په سترګه ګوري.
روسیې د ۲۰۰۸ زکال په اګست میاشت کې د ګرجستان پر وړاندې د زور څخه ګټنه وکړه او ګرجستان پورې اړوند سیمې جنوبي اوسیتیا او ابخازیا یې د خپلواکو دولتونو په توګه په رسمیت وپېژندل.د روسیې دا عمل د ناټو او غرب سره د جورجیا نېږدې کېدو د مخنیوي د هڅې په توګه تشریح شو.
په هر صورت دغه هېواد د توري بحیرې له لارې د ترکیې سره وصل دی او د آذربایجان د ګازو او تېلو د لېږد لپاره و ترکیې ته یو ښه مسیر ګڼل کېږي.اذربایجان،ګرجستان او ترکیې خپل منځ کې یو د بل سره د اتصال- د ګازو، نفتو او نورو توکو د لېږد په موخه د کړښو یو مجموعه ایجاد کړې او د دغه اړیکو د لا پراختیا لپاره د لاجوردو لار د مهمو مسیرونو څخه ده.
د سویلي قفقاز په سیمه کې د ترکیې دا ښکېلتیا د روسیې پر وړاندې د ترکیې د نفوذ زیاتوالی په ګوته کوي. دغه هېواد لا دمخه د باکو،تبلیسي،کارس (BTK) رېل پټلۍ د ترکیې د نوې ورېښمو لارې په توګه نوملې چې دا به د شمالي افریقا او اروپایانو له‌خوا په وچه کې راګیر منځنۍ اسیا سره د وصل په موخه وکارول شي.
ترکیه: پر یادو هېوادونو سربېره وروستی او پنځم هېواد ترکیه ده، چې د دې لارې په مسیر پرته ده.یاد هېواد په‌دې هڅه کې دی چې اروپا ته د انرژۍ د لېږد په ثقل بدل شي، دې هدف ته د رسېدو له‌پاره د لاجوردو لار ښه مرسته کوونکې فرصت دی. د همدې امله ترکیه به د لاجوردو د طرحې په تطبیق او د دې لارې د توکو په لېږد کې اروپا ته پام وړ هڅې وکړي. د دې ټولو هېوادونو هڅو ته په کتو سره د دې لارې د ښې راتلونکې په اړه هیلې را ټوکوي.
د هېوادونو د جیو پولیټیک وضعیت په رڼا کې چې پورته کومې څرګندونې شوې، دا په ګوته کوي چې د لاجوردو کوریډور د غړو هېوادونو د ملي لومړیتوبونو سره سمون لري. دا کوریډور د غړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پیاوړې کولو وړتیا لري او په دې توګه کولی شي د نورو نوښتونو لپاره په اوږد مهال کې لاره هواره کړي.
بالاخره د لاجورد لار د سیمه ییزې پراختیا، د افغانستان، منځنۍ اسیا او له اروپا سره د څو اړخیزو اړیکو د ټینګښت لامل کېدلی شي.



# د فرهنګي مبارزې ګټې

**مولوي نورالحق مظهري**

فرهنګي مبارزه وروره! په دې خاطر چې د اسلام او اسلامي نظام لپاره ستا مبارزه د الله تعالی لوري ته دعوت او د دین دفاع ده،نو که ته خپل نیت سم کړې او په پوره اخلاص د ښو اخلاقو په چوکاټ کې خپله مبارزه پر مخ یوسې ستا مبارزه به اړومرو مثبته نتیجه ورکړي او لاندې ګټې به ورباندې مرتبې شي:
۱-د الله تعالی لوري ته په دعوت باندې د مسلمان په ایمان کې قوت راځي او د لا هدایت سبب یې جوړېږي.
۲-د الله تعالی لوري ته په دعوت داسې لویې مزدورۍ د انسان په برخه کېږي چې د مړینې وروسته یې هم ثواب ورته رسېږي.
۳-د الله تعالی لوري ته په دعوت انسان ته د زړه سکون او اطمینان حاصلېږي او ورځ تر بلې یې پرمختګ په برخه کېږي.
۴- د الله تعالی لوري ته په دعوت د انسان په علم او پوهه کې ډېروالی راځي آن تر دې چې په دعوت او مبارزه کې یې نوښتونه په برخه کېږي.
۵- د الله تعالی لوري ته دعوت د سترې بریا او کامیابۍ سبب دی چې هر مسلمان یې په هره زمانه کې غوښتونکی دی.
۶-د الله تعالی لوري ته په دعوت پر انسان د الله تعالی رحمتونه نازلېږي او ډېر توفیقات یې په برخه کېږي.
۷-د الله تعالی لوري ته په دعوت اسلامي امت ته اسباب د نصرت په لاس ورځي او پر خپلو دښمنانو د بریا فرصتونه ورته برابرېږي.
۸-د الله تعالی لوري ته دعوت د هغو اسبابو څخه دی چې په درلودلو یې اسلامي امت په غوروالي او خیریت متصف سوی او د دې امت لپاره ممتاز صفت ګرځېدلی دی.
۹-د الله تعالی لوري ته دعوت د ټولو خبرو غوره خبره ده،ځکه نو کوونکي ته یې الله تعالی تر بل هر چا ډېر ثوابونه او لوړې مرتبې ورکوي.
۱۰-د الله تعالی لوري ته دعوت د انبیاؤ او پیغمبرانو دنده ده او د هغوی وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امت کې د علماء کرامو وظیفه ده.
۱۱- د الله تعالی لوري ته په دعوت په کفارو کې اسلام او په مسلمانانو کې تقوی خپرېږي چې په نتیجه کې اسلام او تقوی ته خلک راځي او د کفر او فسق څخه خلک وځي چې دا کار خپله دعوت کوونکي ته لویه بریا ده.

# د «إسماعیل هنیه» پېژندنه

**ژباړه: حسان مجاهد**




إسماعیل هنیه په ۱۹۶۲م کال د جنوري په ۲۳مه نېټه د غزې ساحلي کډوالو په پنډغالي کې په هغه کورنۍ کې وزیږېده، چې په کال ۱۹۴۸م کې یې له عسقلان څخه دلته پناه راوړې وه، لومړنۍ زدکړې یې د ملګرو ملتونو له لوري د فلسطیني کډوالو لپاره د مرستې او کار ادارې(اونرا) په ښوونځیو کې سرته ورسولې، له «الأزهر» انستیتوت څخه د سند ترلاسه کولو وروسته د غزې په اسلامي پوهنتون کې په ۱۹۸۷م کال شامل شو او له هغه ځای څخه یې په عربي ادبیاتو کې د لیسانس سند ترلاسه کړ.
دوه شپیته کلن إسماعیل هنیه په ۲۰۱۷م کال کې د حماس اسلامي غورځنګ د سیاسي دفتر مشر خالد مشعل ځای ناستی وټاکل شو.
په ۲۰۱۸م کال نومورې متحده ایالاتو د ترهګرو په لیست کې شامل کړ او په نړیوالو رسنیو یې هغه مهال نوم را ښکاره شو چې په إسرائیلو د حماس اسلامي غورځنګ له خوا بریدونو پیل شو.
نوموړی إسرائیلو څو ځله ونیول او په ۱۹۹۲م کال یې د حماس نورو مشرانو په ګډون لبنان ته وشړل.
إسماعیل هنیه د خپل کاکا له لور «آمال هنیه» سره نکاح وکړه. دوی داوړه د دیارلسو تنو اولادونو له نعمته برخمن شو؛ پنځه لوڼې چې نومونه یې: سناء، بثینة، خولة، لطیفه او ساره دي. او اته تنه زامن چې نومونه یې: عبدالسلام، همام، وسام، معاذ، عائد، حازم، امیر او محمد دي. درې وروستي(حازم، امیر او محمد) د کوچني اختر په لومړۍ ورځ د إسرائیلو لخوا په یو برید کې هغه مهال په نښه او شهیدان شول چې دوی د غزې ترانګې په مرکزي سیمه کې په یو ملکي موټر کې د اختر په مناسبت دوستانو ته دمبارکۍ ورکولو په موخه روان وو. په برید کې له یوې ماشومې پرته چې په سطحي توګه زخمي شوه او «العمداني» روغتون ته انتقال شوه؛ نور ټول وګړي شهیدان شول.
إسماعیل هنیه له الجزیرې سره په خبرو کې وویل: د الله تعالی شکر ادا کوم چې د درې زامنو او څو لمسیانو په شهادت سره یې عزت راکړ... په روانو دردونو او وینو به مورږ خپل امیدونه او راتلونکی جوړوو او په نتیجه کې به یې مورږ(فلسطینیان) او ټول امت له آزادي برخمن کېږو، په غزه کې هر فرد او هرې کورنۍ د خپلو اولادونو د وینو پوره قیمت او قرباني ورکړې ده، زما د کورنۍ شهیدان غړي چې شمېر یې تر اوسه ٦٠ ته رسېږي؛ د دوی او نورو فلسطینیانو تر منځ هیڅ توپیر نه وینم.
نوموړي زیاته کړه: اشغالګر اراده لري چې د رهبر د زامنو په نښه کولو سره فلسطینیان مرال له لاسه ورکړي، خو دوی باید پوه شي چې دا ډول کړنې یې مورږ ته په خپل دریځ او خاوره نور هم استقامت را ببښي.

# د منځنۍ آسیا د اسلامي تمدن ځینې مشهورې سیمې او علماء!

**دویمه برخه / م حماد شیرزاد**

د لیکنې په لومړۍ برخه کې مو د منځنۍ آسیا د ماورالنهر د یوې مشهورې سیمې سمرقند او پکې د تېرو شویو مشهورو او جمهورو علماؤ یادونه وکړه، یاده لیکنه کې د دویمې مشهورې سیمې او په اسلامي امت کې مشهور ښار بخارا یادونه کوو چې د تمدن، ثقافت، کلتور، فرهنګ او علم له سترو ښارونو څخه دی.

**بخارا:**

بخارا د اسلامي تمدن او علم له سترو ښارونو شمېرل کېږي، چې نن سبا د ازبیکستان پنځم لوی ښار حسابېږي، چې د اسلامي تمدن او ثقافت په کې تر ۱۰۰ زیاتې نښې نښانې دي، یاد ښار تاریخي قدامت لري، ځینې یې تاریخ تر ۵ زرو کلونو هم هاخوا لیکي، یاد ښار د پخوانۍ ورېښمو لارې په منځ کې پروت و، چې له امله یې د تجارت په نوم هم شهرت موندلی و، معجم البلدان کې ورته بخارا الشریفة او د سرو زرو ښار هم ویل شوی، ځینې بیا وایي بخارا د بخار نه دی او په معنی د زیات علم، ځکه دلته د هر فن علماء تېر شوي.

**د بخارا فتحه:**

بخارا له اسلام وړاندې د ایراني ساساني سلطنت تر حاکمیت لاندې وه، په لومړي ځل یاده سیمه د امویانو دور حکومت کې د عبیدالله بن زیاد په لاس ۵۴هـ کال کې فتحه شوه، چې د سیمې د بادشاه له لوري جزیه اداء کېده، وروسته بیا د سالم بن زیاد په لاس ۶۱هـ کال کې فتحه شوه خو اسلام په کې سرایت ونه کړ، چې بیا د مشهور فاتح قتیبه بن مسلم له لورې ۹۰هـ کال کې په بشپړه توګه فتحه او له هغې وروسته په کې اسلام په بشپړه توګه خپور او یاده سیمه د اسلامي تمدن له مشهورو سیمو او د علم له سترو مرکزونو څخه وګرځېدله.

بخارا د اسلامي تمدن د عظمت او شاهکارۍ شاهده ده، هلته که یو طرفته د علم چرچې وې، بل طرفته یې بادشاهانو د معمارۍ او آبادۍ لوی لوی ځلي هم جوړ کړي وو، سلګونه مدرسې، جوماتونه، مزارونه او نور تاریخي ځایونه چې زیاتره یې تر ۱۰۰۰ کلونو او ځینې یې بیا ۶ او ۷ سوه کلن تاریخونه لري او تر ننه هم آباد دي، په مشهورو تاریخي ځایونو کې یې د سامانیانو هدیره، مسجد بالاحوض، د چار منار مدرسه او مسجد، مشهوره تاریخي قلعه چې د ارګ په نوم یادېږي، لبی یا لبی حوض چې پخوانی تاریخ لري او تر څنګ یې پخوانۍ مدرسې په زاړه شکل کې آبادې دي، چشمه ایوب او یوئی کلیان یا کلان مجموعه چې په کې د میرعرب مدرسه، جومات او منار شتون لري او تر ټولو زیات لیدونکي لري او داسې نور لکه د ۱۶صدۍ د عبدالعزیز خان مدرسه، پخواني تجارتي بازارونه او د بهاء الدین نقشبندي بخاري مزار.

مشهور علماء کله چې یاده سیمه د قتیبه بن مسلم له لوري فتحه شوه، یاده سیمه کې د علم او فنونو چرچې شوې، دلته دیني علومو، فنونو، فلسفې او الٰهیاتو د زده کړو مرکز وګرځېد، چې له امله یې سلګونه لوی لوی علماء او د هر فن ماهرین نړۍ ته وړاندې کړل، چې ځینې مو یې په لاندې ډول ذکر کوو.


۱- د بخارا مشهور عالم، په اسلامي نړۍ کې پېژندل شوی ستوری، د احادیثو لوی امام، هغه چې کتاب ته یې له قرآن کریم وروسته د صحت درجه ورکړل شوې، هغه چې ۵لکه احادیث یې یاد وو، امام ابوعبدالله محمد بن اسماعیل البخاري چې په امام بخاري مشهور دی ۲۵۶هـ کال کې وفات شوی، مشهور کتابونه یې الجامع الصحیح «بخاري» التاریخ الکبیر، التاریخ الصغیر، الجامع الکبیر، الادب المفرد، التفسیر الکبیر او ځینې نور.

۲- د نوي طب مشهور فلسفي او حکیم عالم بو علي سیناء چې بشپړ نوم یې ابو علي الحسین ابن عبدالله بن سیناء، چې ۴۲۸هـ کې وفات شوی، نوموړي په طب، فلسفه، فلکیات، ساینس او علم الکلام کې شهرت موندلی و، نوموړي په یادو فنونو کې زیات کتابونه لیکلي، د ابن سیناء له تصنیفاتو کتاب القانون، کتاب ادویه القلبیه، کتاب الشفاء، په ریاضي، فلسفه او نورو علومو یې مختصر اقلیدس، کتاب الزاویة، مختصر علم الهیئة، اشارات او داسې نور...

۳- مشهور محدث او حافظ الحدیث ابو حفص البخاري چې په البزار سره هم شهرت لري، د پینځمې صدۍ لوی محدث تېر شوی، خپل نوم یې عمر بن منصور بن أحمد بن محمد البزار أبي حفص البخاري و.

۴- د حنبلي مذهب مهشهور فقیه او محدث عالم علي بن احمد بن عبدالوحد المقدسي فخر الدین چې مشهور په ابن البخاري و او د ۷مې صدۍ مشهور عالم تېر شوی.

۵- د تصوف د ټولو مشهور سلسلې نقشبندیه باني محمد بن محمد خواجه بهاءالدین النقشبندي البخاري چې ۷۹۱هـ کال کې وفات شوی او داسې نور...



# د سپټمبر ۱۱مه پر افغانستان د نظامي یرغل لپاره دسیسه وه

**ابوالیاس جهادول / لومړی برخه**



تاریخ ته په کتو سره دا موندلی شو سترو قدرتونو او زبرځواکونو په تېره بیا لوېدیځ استعمار تل د خپلو موخو تأمین او قلمرو پراختیا لپاره له ځینو وسیلو استفاده کړې څو د درېیمې نړۍ په تېره اسلامي هېوادونه تر خپلې ولکې لاندې راولي او د هغوی پر مادي او معنوي سرچینو خېټه واچوي. په اوسني پېر کې هغه څه چې لوېدیځ ورڅخه په دې برخه کې د یوې وسیلې په توګه استفاده کړې، یوه هم د «ترهګرۍ» کلمه ده چې تل یې د خپلو ګټو مطابق تعریفوي او په همدې پلمه یې په یو شمېر هغو هېوادنو او ملتونو بریدونه کړي او هغوی یې تر خپلې ولکې لاندې راوستي چې د دوی ګټې ګواښي او یا یې مطابعت نهکوي چې یو له هغو څخه هم افغانستان و چې کابو دوه لسیزې په همدې پلمه د اور په لمو کې وسوځېد.

افغانستان یو له هغو هېوادونو دی چې د خپل ستراتیژیک جیوپولتیک موقعیت له امله یې تل د غرب د بهرني سیاست په محراق کې ځای درلودلی او غربي ستراتیژیستانو د دغه هېواد لاندې کولو لپاره له ډېر پخوا څخه لندمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله پلانونه طرحه کړي وو. د پخواني شوروي اتحاد سرو لښکرو پر وړاندې د افغان مجاهد ولس د برحق جهاد پر مهال په اوو ګوندونو د مجاهدینو وېشل او له مشخصو کړیو څخه د غرب ملاتړ چې په ترڅ کې یې کورنیو جګړو ته لار هواره شوه. د میلیونونو شهیدانو آرمانونه چې په هېواد کې د یو سوچه، خپلواک اسلامي نظام جوړول وو، له خاورو سره خاورې کړل؛ د برهان‌الدین رباني په مشرۍ د یو کمزوري ائتلافي حکومت جوړول او پر څو برخو د هېواد وېشل د غربیانو یوه دسیسه وه چې په دې توګه یې په افغانستان کې لاسوهنو ته لاره برابره کړه.

خو کله چې د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد رحمةالله په مشرۍ د طالبانو اسلامي تحریک ( اسلامي امارت) د جهاد آرمانونو د تحقق او د پاشلي هېواد د بېرته یوځای کولو په نیت راپورته شو، په کمه موده کې یې ټول هېواد تر واحد قیادت لاندې راوست او د یوه سوچه اسلامي نظام په تأسیس سره یې په هېواد کې شرعي نظام حاکم کړ، نو غربي استعمار دغه ډول نظام د خپلو ګټو پر وړاندې خنډ وباله او نه یوازې دا چې اسلامي امارت یې په رسمیت ونه پېژانده، بلکې د هغه د ناکامۍ او جګړې اور تازه ساتلو لپاره یې له شمال ټلوالې خپل ملاتړ ته دوام ورکړ. غرب تر پایه د برهان‌الدین رباني په مشرۍ یو داسې حکومت په رسمیت وپېژانده او په بېلابېلو برخو کې یې مرستې ورسره کولې چې د بین‌المللي اصولو پر بنسټ یې د حکومتولۍ هېڅ شرط هم نه و پوره کړی.

څرنګه چې د کلمبیا پوهنتون د ژورنالېزم پوهنځي رییس ستیف کول په‌خپل کتاب «جنګ اشباح» کې ورته اشاره کوي، د امریکایي مرکزي استخباراتي اداري ( سي آی اې) مامورینو له ۱۹۸۷ کال څخه تر ۱۹۹۹ کلونو پورې پنځه ځلې افغانستان ته د پټو سفرونو په ترځ کې د شمالي ټلوالې له نظام قومندان احمدشاه مسعود سره لیده کاته وکړل او له هغه سره یې په نظامي او استخباراتي برخو کې د همکارۍ ژمنې وکړې. د سویلي آسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیر کارل فورت د ۱۹۹۹ کال په جولای کې د ازبیکستان پلازمېنې تاشکند ته د یو سفر په ترځ کې د شمالي ټلوالې له قومندان احمدشاه مسعود سره په لیدنه کې له هغه سره د همکارۍ پر څرنګوالي بحث وکړ چې وروسته له مسعود سره د تسلیحاتي مرستو لپاره یوه پالیسي هم جوړه شوه. له هغه وروسته د سپینې ماڼۍ د اطلاعاتي پالیسۍ او حقوقي دفتر له‌خوا له ترهګرۍ سره د مبارزې ټیم (جابریکر ـ۵ ) ماموریت لایحه جوړه او د امریکا د ملي امنیت شورا له‌خوا تصویب شوه چې پر بنسټ یې د اسامه بن لادن د تعقیب مرکز مدیر « رچ» په مشرۍ د سي آی اې سازمان د مامورانو یو ټیم د ۱۹۹۹ کال په اکتوبر کې پنجشېر ته سفر وکړ. په دغه سفر کې د مالي، مخابراتو او تسلیحاتي مرستو د ژمنو تر څنګ د سي آی اې له‌خوا د مسعود د استخباراتو مامورانو پر روزنې هم هوکړه وشوه. چې وروسته د امرالله صالح په ګډون د احمدشاه مسعود ډلې یو اته کسیز اطلاعاتي ټیم د استخباراتي روزنې په موخه د متحده ایالتونو په وریجنیا کې د سي آی اې مرکز ته واستول شو. د دغو همکاریو په ترځ کې د مسعود جنګیالو د ۲۰۰۰ م کال په لومړیو کې د ننګرهار پر ډرونټې سیمې راکټي بریدونو ترسره کولو ادعا هم وکړه خو د دغه بریدونو د کره‌والي په اړه شواهد نه‌دي ترلاسه شوي.

له هغه وروسته د ۲۰۰۱ م کال په دوبي کې د امریکا له‌خوا روم او واشنګټن ته د شمالي ټلوالې دوو مخکښو چارواکو ( یونس قانوني او عبدالله عبدالله) سفرونو ته زمینه برابره شوه. د دغه سفر په ترځ کې دغو چارواکو د افغانستان له پخواني پاچا ظاهرشاه او یو شمېر امریکایي چارواکو سره د افغانستان پر سیاسي او نظامي مسائلو یو لړ هوکړې وکړې. همدارنګه د امریکایانو په مرسته د حامد کرزي او د شمالي ټلوالې د استازو ناستې، د افغانستان شمال ته د کرزي سفر او هلته له مسعود سره د اسلامي امارت پر وړاندې د جګړې پر لارو چارو بحث په‌خپله د دې ښودنه کوي چې امریکا لا له مخکې پر افغانستان د برید لپاره د یوې بهانې په لټه کې وه. او د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر یوولسمې پېښه د نظامي یرغل د مشروعیت لپاره یوه دسیسه وه چې تر پایه هم واشنګټن داسې اسناد وړاندې نه‌کړل څو د دې ښوودنه وکړي چې دغه برید دې په افغانستان کې طرحه شوی وي او شېخ اسامه بن لادن دې په‌کې ښکېل واوسي.

# استحکام پایه های نظام اسلامی در تأمین عدالت اجتماعی

**احمد**

شاید یکی از مهمترین و پرچالش ترین معضل امروز بشر در سطح جهان، عدم تأمین عدالت اجتماعی باشد و این پرسش را نیز مطرح می سازد که مفهوم عدالت و تحقق آن چیست؟

پیش از ظهور دین مقدس اسلام، دانشمندان نظیر گزنوفانس در یونان قدیم، راجع به مذهب توحیدی و خدای عادل، تئوری خویش را بر مبنای فطرت انسان مطرح کردند. خداوند یکتا را خدای عادل توصیف و اظهارنمودند، اگر انسان در طریق عقل و فطرت سالک و زاهد بوده، می تواند با عدالت زندگی کند و ...

بنابرین در پهلوی این دیدگاه، شاهد این نکته نیز هستیم که بزرگان دین، عدالت را رکن و عنصر اساسی حیات بشر در روابط اجتماعی می دانند.

دین انسان ساز اسلام هم به عنوان دین حقیقی و هم به عنوان دین واقعی در تکمیل فرضیه ها و تئوری های پیشین، به شناسایی ابعاد مختلف عدالت پرداخته است، قرآن کریم نیز مستقیم و غیر مستقیم به مبحث عدل و ظلم اشاره دارد، اما در این مبحث جا دارد، نخست به سیرت پیامبر بزرگوار اسلام حضرت محمد مصطفی (ص) و عدالت انجام شده از طرف ایشان در مدینه اشاره نمود:

از ابن قیم روایت است که رسول خدا بعد از اعمار مسجد که در حقیقت مرکز تجمع و دوستی مسلمانان بود، ابتکار دیگری را نیز انجام داد و در خانه انس بن مالک (رض) به خاطر تأمین عدالت و برابری میان مهاجرین و انصار، پیمان برادری ایجاد کرد، د راین پیمان جمعاً ۹۰ نفر، ٤٥ تن از مهاجرین و ٤٥ تن دیگر از انصار حضور داشتند، بر اساس این پیمان ، همه برادر و برابر بودند. تا جاییکه حتی از همدیگر ارث می بردند، هرچند جریان ارث بردن برادران دینی تا زمان جنگ بدر بود، اما بانزول آیه ۷۵ سوره انفال، ارث بردن مسلمانان از یکدیگر از پیمان برادری به خویشاوندی نسبی موکول گردید، مفهوم این برادری چنانیکه محمد غزالی نوشته، این بود که «تعصبات جاهلیت از بین برود و مسلمان فقط به خاطر خدا و اسلام شجاعت و غیرتش را به کار گیرد، امتیازات نسب، رنگ ونژاد نابود گردد و تنها جوانمردی و تقوا معیار برتری قرار گیرد.» در نتیجه همین اقدام بی نظیر پیامبر گرامی اسلام بود که جامعه‌ی نو پای مدینه به یک جامعه ی بی نظیر در پرتو عدالت اجتماعی شکل گرفت وادیان واقوام دیگر هم در زیرلوای توحید گرد آمدند منافع مدینه را منافع مشترک خود دانستند، بنابر این از آن جایی که عدالت اجتماعی به عنوان یکی از اهداف انبیاء (ع) معرفی شد و از نگاه نبوی فلسفه حکومت نیز بر قراری عدالت است.

روی این اساس جامعه ی را می توان اسلامی دانست که در پهلوی دیگر مزایایی اسلامی و تحقق شریعت غرای محمدی (ص) تبعیض و نابرابری ها در آن وجود نداشته باشد، زیرا دشمنان اسلام به خاطر ایجاد فاصله میان مسلمانان از مسایل کوچک وبی ارزش، کوه می سازند، سعی می کنند میان مسلمانان آتش نفاق را شعله ور سازند.

نظر به این موضوع حساس باید کشورهای اسلامی روی مسایل داخلی خود بیشتر تمرکز داشته باشند و عدالت اجتماعی را به شکل واقعی آن تأمین نمایند.

با توجه به جایگاه رفیع عدالت در سیرت نبوی، بهترین معیار ارزیابی عملکرد رهبران جامعه‌ی اسلامی تطبیق عدالت و تحقق عدالت اجتماعی است که باید میزان توفیق برنامه های اجتماعی خود را با معیار یاد شده بسنجند و این عدالت است که پایه های نظام را مستحکم می سازد

# اوسنۍ اسلامي نړۍ ته د ابو ریحان البیروني پیغامونه

**ګل رحمن رحماني/ دویمه برخه**




د البیروني د تالیفاتو انګیزې
البیرونـــي په خپل ژوند کې له هر فرصت نه سالمه استفاده کړې ده، د هغه سلګونه اثار، مقالې او ویناوې د همداسې مواقعــو زېږنده دي. کلــه چې د خوارزم ځمکه د ســلطان محمود غزني د لښکرو له خــوا لاندې شــوه، البیرونـــي هم یو زنداني و، خــو کله چې دې غمي په ایرو کې ببرته ځان را څرګند کړ، د غزنوي هم ورته پام شو، تر دې چې د درناوي او مقام ور وګرځېد، د ســلطان مسعود غزنوي په دربار کې هم د علمي شـــخصیت په توګه پاتې شو.
مهمــه دا چې پر هند د غزنوي یرغلونو په لښکرو کې هم د یوه مجاهد په توګه پاتې شو. هلته یې په خالي
فرصتونو کې هندي ژبـــې، فرهنګ، دین او علوم ولوستل، سانسکرېت ژبه یې زده کړه او د یونانـــي یا لاتیني ژبې په څېر یې ورڅه د لومړي لاس ســرچینو په تر لاسه کولــو کې کار واخیســت. دی په بېلابېلو برخو کې د خپلو اثارو له لاري د اوســنۍ اســـلامي نـــړۍ مشـــرانو، پوهنتونونو او اکاډمیکو مرکزونو ته پیغام ورکوي چې په کمو امکاناتو ډېر څه کېدی شـــي، بشر د جهل له تیارو څخه را اېستل کېدی شي، خو هغه وخــت چې مطالعــه او تحقیق وي، د قران او احادیثو هغه ارشـــادات او لارښـــوونې را وسپړل شـــي چې د بشر د خیر ښېګنې لپاره یې کړي دي.
د البیروني فکري او ټولنیز لیدلوری
په یویشـــتمه پېړۍ کې د یرغلګرو او تېري ګرو تر ټولو ستره وســـله، اتوم، باروت او معاصره ټکنالوژي نه ده، بلکې
فکــري وســیلې او فرهنګي جګــړه ده، البیروني پېـــړۍ وړاندې د خپلـــو څېړنو له لارې مســـلمانانو تـــه څرګنده کړه چې اسلام
د هر مهال لپاره ځواب ویونکی دین دی، د پراخ نظرۍ او بهتریـــن ژوند کولو دین دی او د اسلام ټولنیز لیدلوری موږ
ټولــو ته اجــازه راکــوي چــې د ځان، طبیعت، بشــر، کائناتو او پټو پوهنو په اړه ژور ســوچ وکړو، د بشــر د خیر ښېګنې چاره وســنجوو، خپــل علــم او فکر په ټولنیز ژوند کې د تحول د وسیلې په توګه وکاروو.
له بــده مرغه چې په اوســنۍ نړۍ کې د دین او سیاســت د جلا والي مفکوره چې له سیکولرېزم سره رېښه لري،
پــه چټکــۍ روانــه ده او ګڼو اســلامي هېوادونو ته دا لیدلوری ورکړل شوی چې ګڼي خدای مه کړه زموږ د وروسته پاتې والي لامل به اســلام وي، که چېرته دین او سیاســـت ســـره جلا کړو، بیا پرمختګ وکړو، خو البیروني وایي چې اسلام خپله یـــوه غوره او معقول سیاســـت دی، له هر ټولنیز لیدلـــوري څخه د بشـــري اړتیاوو ځواب ویلی شي.
البیروني او ساینسي څېړنې
هغه د ذکاوت یو بېســـاری استازی و. په اوولـــس کلنۍ کـــې یې د یـــوې مدرجې حلقې په مرســـته یې د لمر د نصف النهار لوړوالـــی اندازه کـــړ. همدارنګـــه یې د «ستور پېژندنې» په برخه کې ـ چې یو له مغلقو علومو څخه ده ـ ګڼ شـــمېر معتبر آثـــار کښـــلي دي .دغه نوموتـــي عالم په ۴۲۰ســـپوږمیز کال د نجومو او هندسې په هکله د «التفهیم» کتاب ولیکه. چې دا کتاب تراوســـه په یادو برخو کې یې معتر عملي ماخذ دی. که څـــه هم د البیروني مورنۍ ژبه «خوارزمي» وه؛ خو د وخت اړتیـــا ته پـــه کتو یـــې آثار پـــه عربي ژبه تالیفول او په فارســـۍ یې هم کامل تسلط درلود.
البیروني د شـــاوخوا پنځلسو اختراعاتو او اکتشـــافاتو ســـر لاری دی، تر دې چې په نجوم، فلکیاتو، انجینري،
جغرافیـــه او طـــب کـــې دده اثـــار همدا اوس هم د غـــوره او باوري ماخذ په توګه کارېـــږي، د ځمکه او لمر تـــر منځ هغه واټن
چـــې ده ښـــوودلی و، د فضایـــي څېړنو اوسنیو ګڼو باوري مرکزونو هم تائید کړی او حتی ویل کېږي چې په سپوږمۍ کې هـــم البیروني په نامه یوه ســـاحه حقیقت خوښـــوونکي غربي څېړونکو دده په نامه کړې ده. دا ډېره د افسوس خبره ده چې اوســـني اســـلامي هېوادونه حتی د هلال معلومولو په برخه کې هم ســـتونزې لري او یا که له کومو وسایلو هم ګټه اخلي، هغه د کفري هېوادونو تولید دی، حال دا چې البیروني څه باندې زر پېړۍ وړاندې دې برخې ته پوره کار کړی و. ده د خپلو ساینسي څېړنو له لارې څرګنده کړه چې اســـلام هېڅ وخت هم د عصري او ساینسي څېړنو مخالفت نه کوي، بلکې اړتیـــا یـــې بولي، خو ســـاینس پـــوه باید لومړی په خپل دین پوه وي، ســـمه عقیده ولري، څو د کائناتو په عظمت او رازونو کې یې دا باور لا پیاوړی او یقیني شي.
البیروني، اسلامي حکومتولي او یووالی
البیروني په خپل ژوند کې په ګڼو اسلامي هېوادونـــو کې ژوند کـــړی، دا دې معني لري چې هرې خاورې ته یې د خپل کور په ســـترګه کتـــل او دا یې پـــه خپلو تاریخي اثارو کـــې څرګنده کړې ده چې دده په زمانه کې د اسلامي هېوادونو د پرمختـــګ او ویـــاړ یـــو لامل اســـلامي وحـــدت وو، دا یووالـــی د دوی د قـــوت سبب شـــوی او ځکه یې په ګڼو اختراعاتو او
اکتشـــافاتو کې ننۍ نړۍ د ځان احسانمنه ده. دی د اســـلامي هېوادونو د مشرانو او حکومتونو په اړه وایي: لکه وړاندې
چې یادونه وشـــوه، نوموړی د ساسانیانو، هخامنشیانو، خوارزم شاهانو او غزنویانو د مهال شپږو اسلامي دولتونو سره دعلمي شخصیت او ســـلاکار په توګه پاتې شوی دی. خپل اندونه د اســـلامي سیاست په اړه داسې وړاندې کوي.
نوموړی وایي چې د یوه اســـلامي دولت مشـــر باید دا تدبیـــري عقـــل، عدالت، محبت، تقوا او علم ولري، په همدې ډول د عدالـــت تامین، امنیـــت او ارمي راوســـتل، ابادي او رغونه، د دین او عقل د قوانینو اجرا کول د یوه اسلامي دولت مهم مسوولیتونه دي. دی باور لري چې د یوه حکومت د ثبـــات او ټینګ پاتې کېدو لاملونه عدالت، غوره رهبر لرل،
امنیـــت او ســـوکالي راوســـتل، دینـــي مشـــروعیت لـــرل، د خلکـــو سیاســـي مشارکت او قانون پالنه ده.
په اوســـنیو څېړنو کـــې د البیروني د مقام هېرونه
یـــو ویشـــتمه پېړۍ چـــې له خپلـــو ګڼو بحرانونـــو ســـربېره هـــم د پرمختګونو او ټکنالـــوژۍ دوره ده، د پرمختـــګ ګـــڼ ماخذونه او
د قوت ټکي یې د پخوانیو پېړیو په هســـته کـــې پراته دي، ددې هســـتي په مرکز کې ګڼ اسلامي پوهان او عالمان شته چې یو له هغو څه البیروني دی، اوسمهال که اســـلامي هېوادونو له یوې خوا خپل دغه نومیالي هېر کړي، بې واکه دولتونه یې له اسلامي مفکورې او سیاسي اسلام څخه وېره لري، همداسې کفري هېوادونو هم په خپلو څېړنو کې د اسلامي عالمانـــو او ســـاینس پوهانـــو نظریـــې، مفکورې او لاســـته راوړنې پـــه خپل نامه کـــړې دي، د کابې راپـــټ او نورو علمي موازنیو اصـــول یې تر پښـــو لاندې کړي او اســـلامي هېوادونه له بده مرغه چې د ناخبرۍ او بې غـــورۍ په تیارو کې ډوب دي، ددغه اتلانو د حقونو دفاع او غوښتنه نه شـــي کولی، یا خو به خپله هم ورڅخه وېرېږي.

# آب‌های کشور را مدیریت و از آن استفاده بهینه نماییم

**استوار**

همانطوریکــه جغرافیـــای تعییـــن شـــده وپزیرفته شـــده کشـــورها برای یک دیگر قابـــل احتـــرام وارجگزاری اســـت حریم هوایی وتمام داشـــته های مادی ومعنوی آنهـــا محفـــوظ و مربوط ومنـــوط به خود ایشان می باشد
آبهایـــی که درجغرافیای کشـــور ســـرازیر می‌شـــود مال وملکیت مردم افغانســـتان است و بایســـته اســـت تا ازاین آب ها به غرض شکوفایی کشـــور در ابعاد مختلف استفاده بهینه صورت گیرد .
بـــا تآسـف کـــه از ســـالیان متمـــادی به این‌سو آبهای کشـــور مدیریت نگردیده ، کشورهای همســـایه بیشتر ازما ازاین آبها استفاده خوب کرده اند.
برعکـــس در ولایات مختلف کشـــور در موســـم آب خیزی بـــه ویژه فصـــل بهار وباران های موســـمی که باعث ســـرازیر شده ســـیلاب ها می‌گردد مردم ما متضرر گردیده اند واســـتفاده ومنفعـــت آن برای دیگـــران، ســـوال این جاســـت چه وقت وچگونه می‌توانیم آبهای کشور را مدیریت کنیم واز آن به نفع کشـــور ومردم خویش استفاده نماییم .
افغانســـتان کشوریســـت زراعتی ودارای خاک حاصلخیز و هـــوای گوارا همچنان دارای دشـــت ها هموار و ســـر در فلک، اگر آبهای کشـــور مدیریت شود وبه دامن دیگـــران نریزد ،زمین هـــای بکر وبایر در کشـــور زیر پوشـــش وتحت آبیـــاری قرار گیرد.به اطمینان خاطـــر گفته می‌توانیم به زود تریـــن فرصت از جمله کشـــور های صادر کننده گندم وغله به دیگر کشـــور ها خواهیم بود وما در کشـــور دیگر احساس فقـــر ،بیـــکاری ونیاز مندی بـــه دیگران را نخواهیم داشت.
در فضای امنیت، اتحاد، اتفاق و مدیریت سالم می‌توانیم کشـــور را به اعتلا وتعالی واقعی برســـانیم؛ چه خوبســـت از امنیت وشـــرایط موجود اســـتفاده خـــوب به نفع افغانســـتان عزیز نماییم تا باشـــد شـــاهد شگوفایی و طریقی وطن خویش باشیم.



# د سترګو د نظر حفاظت کول

**لطف الرحمن قمري**

نـــن ســـبا هغـــه خطرناکـــه ګنـــاه چـــې عـــوام او خـــواص ټـــول پـــري اختـــه دي او هېـــڅ ګنـــاه ورتـــه نـــه ښـــکاري هغـــه د ســـترګو د نظـــر ګنـــاه ده. علامـــه ابـــن قیـــم رحمـــة اللـــه علیـــه وایـــي: د ســـترګو حفاظـــت ډېـــر لازمـــي دی ، ځکـــه د ســـترګو حفاظـــت د عـــورت ســـاتنې لپـــاره شـــرط دی، څـــوک چـــې د ســـترګو حفاظـــت و نـــه کـــړي او د نـــاروا کتلـــو څخـــه یـــې منـــع نـــه کـــړي ډېـــر ژر بـــه د هلاکـــت کنـــدې تـــه وغورځـــول شـــي . اللـــه ﷻ فرمایلـــي: {مومنانـــو تـــه ووایـــه چـــې خپلـــې ســـترګې دې لـــه نامحرمـــو نـــه ټینـــې ســـاتي او د خپلـــو فرجونـــو (شـــرم ځایونـــو) ســـاتنه دې کـــوي ..ســـورة نـــور ۳۰ نمبـــر ایـــات{ کـــوم انســـان چـــې خپلـــې ســـترګې ســـاتي، پـــه یـــو حدیـــث کـــې راغلي،چـــې هغـــه د ایمـــان خونـــد او خوږوالـــی ځکـــي رســـول اللـــه ﷺ فرمایـــي : «بـــې شـــکه نظـــر نامحرمـــو تـــه کتـــل د شـــیطان یـــو لـــه زهـــرو ډک غشـــی دی، څـــوک چـــې د اللـــه لـــه وېـــرې نامحرمـــو تـــه کتـــل پرېـــږدي، داســـې ایمـــان بـــه اللـــه ورکـــړي چـــې خونـــد یـــې پـــه زړه کـــې محســـوس کـــړي ». پـــه یـــو بـــل حدیـــث کـــې رســـول اللـــه ﷺ فرمایلـــي دي: «هـــر مســـلمان چـــې لومـــړی وار د یـــوې ښـــځې ښایســـت وګـــوري او بیـــا خپلـــې ســـترګې ټیټـــې کـــړي ، اللـــه تعالـــی بـــه هغـــه تـــه د داســـې عبـــادت توفیـــق ورکـــړي چـــې پـــه خونـــد بـــه یـــې پـــوه شـــي.» همدارنګـــه د ســـترګو د نظـــر حفاظـــت نـــه کـــول زنـــا ده یـــو مبـــارک حدیـــث کـــې نبـــي ﷺ فرمایلـــي دي: «د ســـترګو زنـــا کتـــل دي او د غوږونـــو زنـــا اورېـــدل دي او د ژبـــې زنـــا خبـــرې کـــول دي او د لاســـونو زنـــا نیـــول دي او د پښـــو زنـــا تلـــل دي او زړه د (زنـــا) پـــه هیلـــه کـــې دی او خواهـــش کـــوي او شـــرمګاه یـــا دغـــه خواهـــش رښـــتیا کـــوي، یـــا یـــې دروغ کـــوي.» علامـــه ابـــن القیـــم رحمـــة اللـــه علیـــه - فرمایـــي چـــې د زنـــا پیـــل پـــه کتلـــو کېـــږي، دغـــه راز امـــام غزالـــي پـــه احیـــاء علـــوم الدیـــن کـــې لیکـــي چـــې کـــوم ســـړی د خپلـــو نظرونـــو ســـاتنه ونـــه شـــي کـــولای، هغـــه هېڅکلـــه د شـــرمګاوو ســـاتنه نـــه شـــي کـــولای. ذو النـــون مصـــري - رحمـــة اللـــه علیـــه - فرمایـــي: «کتـــل د پښـــېمانۍ لامـــل کېـــږي اول کـــې تاســـف وي او اخـــر کـــې هلاکـــت هغـــه څـــوک چـــې د خپلـــو نظرونـــو تابـــع شـــو، د ځـــان د تباهـــۍ پـــر لار روان شـــو.» اوڅـــوک چـــې د ســـترګو د نظـــر حفاظـــت کـــوي هغـــه تـــه اللـــه ﷻ ډېـــر اجـــر ورکـــوي، حدیـــث کـــې راځـــي: درې ډولـــه (کســـان) داســـې دي چـــې ســـترګې یـــې د جهنـــم اور نـــه وینـــي: ۱ - هغـــه چـــې د اللـــه لـــه وېـــرې ژاړي . ۲ - هغـــه چـــې د اللـــه پـــه لاره کـــې یـــې پیـــره کـــړې وي. ۳ - او هغـــه ســـترګې چـــې د اللـــه لـــه وېـــرې یـــې حرامـــو تـــه نـــه وي کتلـــي .
د سترګو غلط نظر ډېـــر تاوانونـــه لـــري: دســـترګو دنـــاروا کتلـــو څخـــه د نـــه ســـاتنې یـــو تـــاوان دادی، چـــې د ســـترګو نـــور ، ښـــکلا او روښـــنایي بـــه یـــې لـــه منځـــه ولاړه شـــي او پـــه پایلـــه کـــې بـــه یـــې پـــر زړه بانـــدې پـــرده وغوړېـــږي.
دوهـــم داچـــې کـــه دغـــه انســـان نامحرمـــه ښـــځې تـــه زر ځلـــې وګـــوري بیـــا هـــم نـــه مړېـــږي بلکـــې برعکـــس داســـې څـــوک بـــه جـــوړ شـــي چـــې رســـول اللـــه صلـــی اللـــه علیـــه وســـلم تـــه بـــه منفـــور وي او درســـول اللـــه صلـــی اللـــه علیـــه وســـلم لعنـــت بـــه وربانـــدې وي. کلـــه چـــې لـــه لعنـــت ســـره مـــخ شـــو د اللـــه جـــل جلالـــه د رحمـــت څخـــه بـــه لېـــري وي . د نـــاروا کتلـــو څخـــه د ســـترګو د نـــه ســـاتلو بـــل تـــاوان دادی چـــې د عبـــادت څخـــه بـــه یـــې خونـــد لاړ شـــي. دســـترګو د نـــه حفاظـــت بـــل تـــاوان دادی چـــې څـــوک پـــه دغـــه ناروغـــۍ اختـــه شـــي مـــخ بـــه یـــې بـــې نـــوره او چټـــل شـــي.

# د شيخ الحديث مولوي مير حبيب آغا ژوند او هڅو ته کتنه

**مفتي محمدګل سعيد**

شيخ الحديث مولوي ميرحبيب آغا د سيدمحبوب زوی د مير سراج الدين لمسی په ختمه هاشمي سيد، د افغانستان له لويو عالمانو او مشهورو شخصيتونو څخه و، چې په ۱۳۲۲المريز کال د لوګر ولايت د مرکز اړوند د پادخواب شانې کلي په يوه عالمه او فاضله کورنۍ کې زېږېدلی دی.

نوموړي ديني علوم د لوګر په مختلفو ديني مدرسو کې دهغه وخت له تکړه او نومياليو مدرسينو عالمانو هر يو مولوي صاحب فضل محمد پادخوابي، مولوي صاحب فقيرمحمد پادخوابي او استادکل شيخ الحديث مولوي محمدين څرخي (دڅرخ مولوي صاحب) نه ولوستل، دلوړو زده کړو لپاره د وخت لوی شخصيت او مشهور محدث، د لوګر نوميالي عالم شيخ المشايخ مير صاحب عبدالستارجان ته ورغی له هغه څخه يې احاديث ولوستل، په ۱۳۴۵المريز کال کې يې د فضيلت پګړۍ وتړله او د يوه نوميالي عالم په توګه راڅرګند شو.

له فراغت نه وروسته يې د ديني علومو تدريس ته ملا وتړله، د منقولو او معقولو علومو تدريس يې پيل کړ، او د يو منلي او د فخر وړ استاذ په حيث وپيژندل شو، د لرې لرې سيمو زده کوونکي ورته راتلل او له ده څخه يې استفاده کوله، دوديز ديني علوم لکه حديث، فقه، اصول د فقهې، منطق، رياضي، فلسفې، کلام، معاني، او تفسير علومو کې تدريس کاوه. اته کاله يې د څرخ ولسوالۍ په شش کلا کلي کې، پنځه کاله يې دپادخواب شانه په مرکز المدارس کې په زړه پورې تدريس وکړ او بې شمېره شاګردان يې ټولنې ته وړاندې کړل.

د مرحوم مير صاحب د علم له فيض نه ډېرو اشخاصو فيض موندلی او د علمي ممتاز شهرت له کبله استاذ کل په حيث منل شوی ؤ، ډېر لوی لوی علماء، فضلاء، مدرسين، قضاة او لوی شخصيتونه اوس هم شته چې د ده په استاذۍ فخر کوي او وياړي. د شاګردانو يې له شمېره زيات دی.

په ۱۳۵۷ لمريز کال چې کله د روسانو لخوا په کابل کې منحوسه او له ستونزو دکه کودتاه وشوه له همدې کودتاه سره سم نوموري د



هېواد د نورو عالمانو او شخصيتونو په څېر هجرت وکړ او د پاکستان په پېښور کې يې استوګنه غوره کړه. د مهاجرينو لپاره يې د پېښور په افغان کالونۍ کې تعليمي درس ځای (دامام ابوحنيفه رحمه الله مدرسه) جوړه کړه او د ښوونې او روزنې رييس وټاکل شو. نورو جهادي ګوندونو ده په کتو سره د ده لاره تعقيب کړه او هغوی هم ښوونې او روزنې ته ځانګړنې پاملرنه وکړه. په ۱۳۷۳ ل کال چې کله د طالبانو اسلامي تحريک منځته راغي اروابناد شيخ صاحب خپل تنظيم پرېښود او د طالبانو له اسلامي تحريک سره ملګری او د هغوی کلک ملاتړی او همکار شو ، ډېره موده يې په دې سپېڅلي صف کې دنده هم اجراء کړه. نوموړي عام ولس دې ته هڅاوه چې د طالبانو ملاتړ وکړي او له هغوی سره ملګري شي. په ۱۳۸۰ ل کال چې کله د امريکا په مشرتابه صليبي هېوادونو پر افغانستان نظامي يرغل وکړ او د افغانستان اسلامي امارت يې له منځه يوړ د افغانستان د نورو مسلمانانو په پرتله مولوي صاحب خورا زيات غمجن و او دغې عظيمې اسلام او افغان دښمنه غميزې خورا زيات دردمندکړ، د صليبي يرغلګرو له پلوه افغانستان مستعمره کول هر غيرتمن افغان څخه يې پر شيخ صاحب څو چنده زياته ناوړه اغېزه وکړه، ځکه چې شيخ صاحب غښتلی ديني عالم، پر ازادۍ او استقلال مين افغان مجاهد و. دی ډېر زيات خواشيني و په داسې حال کې چې سخت مريض، د ډېر عمر څښتن، د ناروغۍ او د عمر په لحاظ هم له جهاد في سبيل الله څخه په شرعي توګه له متقاعدينو څخه ګڼل کېده، سره له دې يې د يرغلګرو کفارو پر خلاف د جهاد اعلان وکړ او نورو افغانانو ته يې په ډاګه کړه چې د افغانستان په ګردو مسلمانانو د صليبي يرغلګرو په مقابله کې جهاد فرض عين دی. په دې لاره کې يې زيات تکليفونه وګالل او دوه ځلې په دې معمر حالت کې بندي کړای شو او هم يې د ديموکراسۍ پر ضد د اهدنا الصراط المستقيم تر عنوان لاندې په ټول لوګر کې کمپاين وچلاوه او خلکو ته يې د ديموکراسۍ نقصانات او مفسدات ورپه ګوته کړل.

اروابناد په بېلابېلو وختونو کې مختلفې دندې سرته رسولي، چې په لاندې ډول دي:

۱ـ په جمعيت اسلامي ګوند کې د کتابتون امير

۲ـ دښوونې او روزنې رييس

۳ـپه حرکت انقلاب اسلامي تنظيم کې د ښوونې او روزنې د رياست مرستيال

۴ـ د فرهنګي رياست سلاکار

۵ـ په عبوري لنډمهاله حکومت کې د حج اوقافو په وزارت کې ماموريت

۶ـ په کابل کې د مجاهدينو په حکومت کې د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو رييس

۷ـ د معارف وزارت د سلاکار په توګه

۸ـ په اسلامي امارت کې د سترې محکمې د سلاکار په توګه

